مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

مصطفی پسرلی ۲۰۲/۱۰/۰۱

# غزل

زما د زړه په کنډواله کښي دي لا نوم پاتي دی
بېلتون زبيخښلی زړه مي هغسي ماشوم پاتي دی

ستا په يادونو کښي تېرېږي هره شپه د قبر
د لاوارث مړي په څېر مي زړه مظلوم پاتي دی

ستا د فراق په اور کښي سوځم، خو ګيله نه کوم
زما د سترګو هرې اوښکې ته محکوم پاتي دی

خلک خو وايي, وخت به واخلي ستا يادونه له ما
کله يوسف د زليخا مينې محروم پاتي دی

ته به را نه شي، ما د بخت کرښي دي لوستي ګلي
خو ستا په طمع مي زړګی ولې؟ معصوم پاتي دی

ما د پسرلي له شوره لېري ځان په تا وسپاره
زما د ژوند هر يو پړاو داسي مغموم پاتي دی

مصطفی پسرلی
30/09/2026



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ